د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 3 اپريل، کال 2026ء (بمطابق: 14 شوال شريف، کال 1447ھ) د جُـمعَـةُ الـمبارک

## قرآني بيان

پۀ نوم

# پۀ اِنسان او شيطان کښې فرق

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نصيحت
- د غلطۍ نۀ منلو نقصان
- پۀ دور بين کښې نۀ، پۀ آئينه کښې ګورئ!
- د شيطان چغې او سورې

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُود شريف فضيلت

اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قَالَ: مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِائَتَيْ صَلَاةٍ غُفِرَ لَهٗ ذَنْبُ مِائَتَيْ عَامٍ۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د جُمعې پهٔ ورځ پهٔ ما باندې 200 کرته دُرُودِ پاک ولوستو، د هغهٔ به د 200 کالو ګناهونه وبخښلے شي۔ [1]

بروزِ جمعہ پڑھے جو درود اور صَلَوات
نہ ہووے کیونکر اُسے نارِ دوزخی سے نجاتِ
درودِ جمعہ بِلاواسطہ پہنچتا ہے
بگوشِ پاکِ جنابِ نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ستُودہ صِفات

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْكَرِيْم (الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي):

فَتَلَقّٰۤى اٰدَمُ مِنْ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۳۷﴾

(پاره: 1، سورۂ البقرة: 37)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيا آدم د خپل رب نه څهٔ کلمات زده کړل نو الله د هغهٔ توبه

---

[1] ... جمع الجوامع، حرف الميم، جلد: 7، صفحه: 199، حديث: 22353۔

قبوله کړه بے شکه هم هغه ډير توبه قبلوونکے او ډير مهربانه دے-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وئيلے کيږي:

جن کے رُتبے ہیں سِوا،اُن کی سِوا مشکل ہے

يعني څوک چې د اوچتې مرتبې والا دي، هغوئي ته اِحتياط هم زيات کول پکار وي، هغوئي ته مشکلات هم زيات وي ❀ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک نبي دے ❀ رَبِّ کريم هغوئي پهٔ خپل دستِ قدرت سره جوړ کړو ❀ عِلمُ الاَسماء (يعني د نومونو عِلم) يې هغوئي ته وښودلو ❀ پهٔ فرښتو باندې يې هغوئي ته سجده اوکړه ❀ هغوئي ته د خلافت تاج عطا کړے شو ❀ پهٔ جَنَّت کښې هغوئي ايسار کړے شو، غرض دا چې هغوئي ډير د اوچتې مرتبې والا دے، ډير د اوچت شان والا دے، نو چې کله د هغوئي نه يوه خطا وشوه، يعني هغوئي د جَنَّتي وَنې ميوه وخوړله نو دا عمل اګر که ګناه نهٔ وه، يوه خطا وه او خطا هم هٔغه وه پهٔ کومې باندې چې يوه نيکي ميلاوئيږي، د دې باوجود هغوئي پهٔ خپل دې عمل باندې ډير پښيمانه شو، دومره پښيمانه شو چې زمکې ته د تشريف راوړو نه پس هم حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د 300 کالو پورې ژړيدلو-

## ډير ژړيدونکي 5 شخصيات

عُلمائے کرام فرمائي: 5 شخصيات دي کومو چې ډير ژړلي دي (1): **حضرت آدم** عَلَيْهِ السَّلَام ....!! هغوئي پهٔ منع کړے شوې جَنَّتي ميوه خوړلو باندې 300 کاله وژړل (2): **حضرت يعقوب** عَلَيْهِ السَّلَام ....!! هغوئي د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام پهٔ جدايي کښې وژړل، د دې پورې چې د سترګو تور يې سپين شول (3): **حضرت يحيٰ** عَلَيْهِ السَّلَام د الله پاک د ويرې نه ډير وژړل (4): **حضرت فاطِمةُ الزَهراء** رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ظاهري

وصال نه پس د هغوئي پهٔ جدايۍ کښې ډېره وژړيدله او (5): اِمام زينُ العابدين رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د کربلا د واقعې نه پس ډېر زيات وژړل- پهٔ دې ټولو هستيانو کښې چې د ټولو نه د زياتې مودې پورې خوک ژړيدلي وو، هغه حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام دے چې هغوئي د 300 کالو پورې اوښکې توئيولې- [1]

## د آيت مبارک وضاحت

کله چې هغوئي دومره ډېره موده وژړل نو څهٔ وشول؟ مونږ د وړومبۍ سيپارې د سورهٔ بقره، آيت: 37 واوريدو، اللّٰه پاک فرمائي:

فَتَلَقّٰۤى اٰدَمُ مِنۡ رَّبِّهٖ كَلِمٰتٍ فَتَابَ عَلَيۡهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيۡمُ ﴿۳۷﴾

(پاره: 1، سورهٔ البقرة: 37)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بيا آدم د خپل رب نه څهٔ کلمات زده کړل نو اللّٰه د هغهٔ توبه قبوله کړه بے شکه هم هغه ډېر توبه قبلوونکے او ډېر مهربانه دے-

يعنې دا څهٔ کلمات وو کوم چې اللّٰه پاک د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام پهٔ زړهٔ کښې واچول! هغوئي د دې کلماتو پهٔ ذريعه توبه وکړه نو د هغوئي توبه قبوله شوه-

## نوم د هغوئي وو او کار خپل وشو

هُغه کلمات څهٔ وو، پهٔ دې باره کښې د حديثِ پاک پهٔ ډېرو کتابونو کښې دا روايت دے، حضرت عمر فاروقِ اعظم او حضرت عليُ الُمرتضیٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمَا فرمائي: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: کله چې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام نه اِجتهادي خطا وشوه نو (د ډېرې مودې پورې د حيرانه او پريشانه کيدو نه پس) هغوئي د اللّٰه

---

[1] ... تفسير نعيمی، پاره:1، سورۂ بقرۃ، زير آيت:37، جلد:1، صفحه:312۔

پاک پۀ دربار کښې عرض اوکړو: يَا رَبِّ اَسْاَلُكَ بِحَقِّ مُحَمَّدٍ لَمَا غَفَرْتَ لِي اے زما رَبِّ کريمه! ما د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله باندې معاف کړې- اللّٰه پاک وفرمائيل: اے آدمه! تا مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) څنګه وپيژندلو؟ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: اے اللّٰه پاکه! کله چې تا زۀ پيدا کړم او پۀ ما کښې دې روح واچولو او ما سر پورته کړو نو ما د عرش پۀ ستنو باندې لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ليکلي وليدل، نو ما ته معلومه شوه چې تا د خپل نوم سره د هغه چا نوم يو ځائے کړے دے څوک چې تا ته پۀ ټول مخلوق کښې د ټولو نه زيات محبوب دے- اللّٰه پاک وفرمائيل: اے آدمه! تا رښتيا ووئيل، بے شکه هغه پۀ ټول مخلوق کښې زما پۀ دربار کښې د ټولو نه زيات محبوب دے- تۀ د دۀ پۀ وسيله زما نه سوال اوکړه، زۀ به تا معاف کړم او که مُحَمَّد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) نۀ وو نو ما به تۀ نۀ وے پيدا کړے-(1)

سُبْحٰنَ الله! د دې نه معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه هم افضل دے او دا هم معلومه شوه چې د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله باندې دُعا کول د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام طريقه ده-(2)

خدانے اس قدر اُونچا کیا پایہ مُحَمَّد کا
نہ پہچانا کسی نے آج تک رُتبہ مُحَمَّد کا

سیہ کاروں کی کیا گنتی کہ دَرگاہِ الٰہی میں
وسیلہ ڈھونڈتے ہیں حضرت موسیٰ، مُحَمَّد کا

بلاوَصلِ نبی وَصلِ الٰہی غیر ممکن ہے
خدا کے گھر پہنچنے کو ہے دروازہ مُحَمَّد کا(3)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... مستدرک، آیات رسول اللّٰہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، استغفار آدم...الخ، جلد:3، صفحہ:517، حدیث:4286۔

[2]... صِراطُ الجنان، پارہ:1، سورۂ بقرۃ، زیر آیت:37، جلد:1، صفحہ:108 خُلاصۃً۔

[3]... قبالہ بخشش، صفحہ:5351 ملتقطًا۔

## د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نصيحت

حضرت کعبُ الاحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کوم چي تابعي بزرګ دے، ډير لوئي عالِم وو، هغوئي فرمائي: يو ځل حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام خپل شهزاده حضرت شيث عَلَيْهِ السَّلَام ته وفرمائيل: ځويه! تهٔ زما نه پس زما خليفه يې! کله چې هم د الله پاک ذِکر کوې نو ورسره د حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر لازمي کوه ځکه چې ما کله سترګې وغړولې نو د عرش پهٔ پايه باندې مې د هغوئي نوم مبارک ليکلے وليدلو، بيا چې ما د اسمانونو سيل اوکړو نو پهٔ هر ځائے کښې مې د مُحَمَّد [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] نوم ليکلے وليدلو، بيا الله پاک زهٔ پهٔ جَنَّت کښې ديره کړم نو هلته پهٔ هر محل باندې، پهٔ هره کمره باندې، د حُورو پهٔ مَرو باندې، د طُوبیٰ (نومې د جَنَّت د تولو نه پهٔ غټه) ونه باندې، د هغې پهٔ هره پاڼه باندې، د سِدرَةُ المُنتَهیٰ (يعنې اسمانونو ته نزدې د بيرې د يوې ونې) پهٔ هره پاڼه باندې، د دې پورې چې د فرښتو پهٔ سترګو باندې هم د مُحَمَّد [صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] نوم ليکلے شوے وو، بس (اے خوږه ځويه!) د حضرت مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکر ښه ډير کوه، بے شکه فرښتے هر وخت د هغوئي ذِکر کوي-[1]

خُدا کا ذِکر کرے، ذِکرِ مصطفٰے نہ کرے
ہمارے مُنہ میں ہو، ایسی زباں خُدا نہ کرے

د مداحِ حبيب مولانا جميل رضوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير ښکلے کلام دے:

اللّٰہُ اکبر! رَبُّ الْعُلا نے — ہر شے پہ لکھا نامِ مُحَمَّد
نُوح و خلیل و موسیٰ و عیسیٰ — سب کا ہے آقا نامِ مُحَمَّد
دولت جو چاہو دونوں جہاں کی — کرلو وظیفہ نامِ مُحَمَّد

---

[1]… تاریخ ابن عساکر، رقم: 2781، ذکر من اسمہ شیث، جلد: 23، صفحہ: 281۔

| | |
|---|---|
| اللہ والا دَم میں بنا دے | اللہ والا نامِ مُحَمَّد |
| پائیں مرادیں دونوں جہاں میں | جس نے پُکارا نامِ مُحَمَّد |
| دونوں جہاں میں دُنیا و دِیں میں | ہے اِک وسیلہ نامِ مُحَمَّد |
| روزِ قیامت میزان و پُل پر | دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد |
| اپنے رضا کے قربان جاؤں | جس نے سکھایا نامِ مُحَمَّد (1) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پهٔ اِنسان او پهٔ شيطان کښې فرق

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** مونږ واوريدل چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام چې کله زمکې ته تشريف راوړلو نو هغوئي پهٔ خپله خطا باندې اوښکې توئيولې، اخر رَبِّ کريم د هغوئي توبه قبوله کړله او هغوئي ته يــې د خلافت تاج ورعطا کړو- دلته علمائے کرامو زمونږ د زدکړې د پاره ډيرې اهمې خبرې بيان کړې دي، علمائے کرام فرمائي: وګورئ چې معاملې دوه وشوې (1): شيطان ته حکم وشو چې سجده اوکړه! شيطان تکبر اوکړو او سجده يــې اونکړه (2): حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته حُکم وشو:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ (پاره: 1، سورۂ البقرة: 35) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د دې ونې خوا ته مهٔ نزدې کيږئ- |

د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه خطا وشوه- يعنې څهٔ چې وئيلے شوي وو، پهٔ هغې باندې عمل د دواړو اړخونو نه اونشو خو مونږ چې کله د دې دواړو معاملو نتيجو ته ګورو نو دواړه بدلې دي، شيطان سجده اونکړه، د لعنت هار د هغهٔ غاړې ته د هميشه د پاره واچولے شو- حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام جَنَّتي ميوه وخوړله نو هغوئي ته د خلافت تاج پهٔ سر کړے شو

[1] ...قبالۂ بخشش، صفحه:135133 ملتقطًا-

او زمکې ته راوليږلے شو۔

اخر فرق څۀ دے؟ شيطان چې نافرماني اوکړه نو هغۀ ته د لعنت هار پۀ غاړه کړے شو، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه چې خطا وشوه نو د خلافت تاج ورته پۀ سر کړے شو۔ پۀ دې کښې څۀ راز دے؟ علمائے کرام رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم فرمائي: پۀ دې دواړو معاملو کښې د 5 خبرو فرق دے: [1] (1): د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه خطا وشوه، هغوئي د خطا اِقرار اوکړو، شيطان چې ګناه اوکړه نو هغه خپله ګناه وه نۀ منله بلکې پۀ هغې باندې يې دليلونه ورکول شروع کړل، خپل دليلونه يې ورکړل (2): دويم فرق دا دے چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د خپلې خطا ذمه وار خپل ځان وګرځولو، عرض يې اوکړو:

| | |
|---|---|
| رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا (پاره:8، سورۀ الاعراف:23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زمونږه ربه! مونږ پۀ خپلو ځانونو زياتے اوکړو۔ |

خو شيطان د خپلې ګناه ذمه واري پۀ خپل سر وانخستله، دې بدبخته ووئيل:

| | |
|---|---|
| رَبِّ بِمَآ اَغْوَيْتَنِيْ (پاره:14، سورۀ الحجر:39) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زما ربه! زما دې پۀ دې خبره قسم وي چې تا زۀ ګمراه کړم۔ |

اَللّٰهُ اَكْبَر! دا خبيث وائي: اے الله پاکه! تا زۀ ګمراه کړم--- (اَستَغفِرُالله!) حالانکې تکبر دۀ پخپله اوکړو، حسد يې پخپله اوکړو، سرکشي يې پخپله اوکړه، عادتونه يې خپل تيک نۀ وو خو جرأت ته يې وګورئ چې د خپلې ګناه نسبت (مَعَاذَ الله!) د الله پاک طرف ته کوي (3): دريم فرق دا چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پښيمانه شو، د روايتونو مطابق هغوئي د پښيمانتيا پۀ وجه د ډيرو کلونو پورې د اسمان طرف ته نظر اونکړو او شيطان

---

[1]... تنبيه الغافلين، باب ما جاء في الذنوب، صفحه:208 خلاصةً۔

بدبخته وو، هغه د پښيمانتيا پۀ ځائے تکبر اوکړو، پښيمانتيا خو څۀ وه چې اُلټا يـې ووئيل:

| | |
|---|---|
| لَاَقْعُدَنَّ لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۱۶﴾ (پاره:8، سورۀ الاعراف:16) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: زۀ به ضرور ستا پۀ نيغه لاره کښې خلقو ته کښېنم- |

ګويا دې بدبخته وئيل چې ما څۀ کړي دي، پۀ هغې باندې به نور هم زۀ لـمسووم، اے الله پاکه! زۀ به ستا بندګان ستا د لارې نه بے لارې کوم- لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه-

(4): څلورم فرق دا دے چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام فوراً توبه وکړه، څنګه چې د هغوئي نه خطا وشوه، هغوئي فوراً عرض اوکړو:

| | |
|---|---|
| رَبَّنَا ظَلَمْنَاۤ اَنْفُسَنَا ٚ وَ اِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَ تَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾ (پاره:8، سورۀ الاعراف:23) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زمونږه ربه! مونږ پۀ خپلو ځانونو زياتے اوکړو او که تا زمونږ بخښنه وه نۀ فرمائيله او پۀ مونږ دې رحم اونکړو نو ضرور به مونږ د نقصان والؤ نه شو- |

خو شيطان د توبې طرف ته وړاندې نۀ شو، هغه ووئيل:

| | |
|---|---|
| اَنْظِرْنِيْۤ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ﴿۱۴﴾ (پاره:8، سورۀ الاعراف:14) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو ما له د هُغه ورځې پورې مُهلت راکړه پۀ کومه ورځ به چې خلق راپاڅولے کيږي- |

يعنې هغۀ د توبه کولو پۀ ځائے د قيامت پورې معامله وځنډوله۔

(5): پينځم فرق دا دے چې شيطان د اللّٰه پاک د رحمت نه مايوسه شو خو حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام مسلسل رحمت ته سترګې ونيولې، د دې پورې چې د هغوئي توبه قبوله شوه۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د شيطان او اِنسان دا 5 بنيادي فرقونه دي يعنې دا 5 ښه او خراب اندازونه دي، څوک چې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام پۀ لار باندې ځي او دا 5 ښې خبرې اِختياروي، هغه حقيقي اِنسان دے او څوک چې د شيطان والا انداز اِختياروي، هغه پۀ ظاهره اِنسان دے خو پۀ عادتونو کښې د شيطان پۀ شان دے۔ ځکه مونږ له پکار دي چې مونږ دا 5 ښه عادتونه اِختيار کړو:

## (1): غلطۍ منونکي جوړ شئ!

د خپلې غلطۍ منلو عادت جوړ کړئ! د اِنسان نه غلطي کيږي د عربۍ متل دے: اَلْاِنْسَانُ مِنَ النِّسْيَانِ يعنې اِنسان هيرونکے دے۔ ښه اِنسان هغه دے کوم چې خپله غلطي مني۔ پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: كُلُّ بَنِي آدَمَ خَطَّاءٌ، وَخَيْرُ الْخَطَّائِينَ التَّوَّابُونَ د هر اِنسان نه خطا کيږي او ښه خطاکار هغه دے کوم چې د توبې طرف ته ځي۔ (1)

## د غلطۍ نۀ منلو نقصان

دلته يوه لويه مسئله دا ده چې خلق خپلې غلطۍ منلو ته نۀ تياريږي ❁ د دې نه د آنا مسئله جوړه کړي ❁ پۀ غلطۍ منلو کښې ورته خپله پوزه پريکيدل ښکاري ❁ سر ښکته کول ورته ګران وي ❁ د خپلو کشرانو نه به د معافۍ غوښتو همت څوک کوي؟ ❁ داسې پکښې لالچ خنډ [يعنې رکاوټ] جوړ شي ❁ مثلاً که غلطي مې اومنله نو نوکري به مې لاړه شي ❁ پيسې راتلل به بندې شي او هم داسې کيږي چې خلق خپله

---

1… ابن ماجه، کتاب الزهد، باب ذکر التوبة، صفحه:689، حديث:4251۔

غلطي نۀ مني حالانکې دا د دغې غلطۍ نه هم لويه غلطي ده ❁ د دې پۀ وجه کورونه ورانيږي ❁ جګړې کيږي ❁ طلاق کيږي ❁ د ماشومانو مستقبل تباه کيږي ❁ خومره خومره مسئلې جوړيږي ❁ تاسو تاريخ ولولئ او وګورئ چې خومره سلطنتونه دي کوم چې صرف د خپلې غلطۍ د نۀ منلو پۀ وجه تباه او برباد شوي دي--!! دا د غلطۍ نۀ منلو نقصانونه دي۔

ياد ساتئ چې ښه انسان هغه دے کوم چې هُم ځپله خپله غلطي مني، هغه بچ کيږي، د هغۀ د پاره د نجات لارې راوځي خو خوک چې خپله غلطي نۀ مني، بيا يـې وخت پۀ هغه باندې مني، او کله چې پرې وخت غلطي مني نو بيا ډير ناوخته شوے وي۔ لهٰذا که غلطي وشي نو هر وخت خپله غلطي منئ! کنې د لوئي نقصان سره هم مخ کيدے شئ۔

## دريمه ډوډۍ چرته لاړه---؟؟

حضرت جرير رَحۡمَۃُاللهِ عَلَیۡه روايت کوي: يو ځل حضرت سيدنا عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام پۀ سفر باندې روان شو، پۀ لار کښې ورسره يو ګس ميلاؤ شو، هغۀ عرض اوکړو: حضورا ما ته هم پۀ خپل برکتي صحبت کښې د اوسيدو اجازت راکړئ، زۀ هم ستاسو عَلَیۡہِالسَّلَام سره سفر کول غواړم۔ حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام د خپلې ملګرتيا اجازت ورکړو۔ پۀ لاره کښې د نهر پۀ غاړه حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام د ډوډئ د پاره تشريف فرما شو، د حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام سره 3 ډوډۍ وې، يوه يوه ډوډۍ دواړو وخوړله، او دريمه ډوډۍ پاتې شوه۔ حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام ډوډۍ هلته پريښودله او نهر ته لاړو او اوبۀ يـې وڅښلې، بيا چې کله واپس راغلو او وه يـې کتل نو ډوډۍ نۀ وه، حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام د هُغه ګس نه پوښتنه اوکړه: دريمه ډوډۍ څۀ شوه؟ هغه ووئيل: ما ته پته نشته، بيا حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام وفرمائيل: راځه چې مونږ خپل سفر شروع کړو۔ هُغه ګس راپاڅيدو او د حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِالسَّلَام سره روان شو، پۀ لاره کښې يوه هوسۍ د خپلو 2 ښکلو بچو سره ولاړه وه،

حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د هوسۍ یو بچے راوبللو نو هغه د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام حکم ومنلو او فوراً حاضر شو، حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هغه ذبح کړو، هغه یې وریت کړو او دواړو د هغۀ غوښه وخوړله، بیا حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هغه هډوکي یو ځائے ته راجمع کړل او وه یې فرمائیل: د الله پاک پۀ حکم باندې ودرېږه، فوراً هُغه هډوکي بیا د هوسۍ بچے جوړ شو او هُغه بچے د خپلې مور خوا له روان شو، حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هُغه ګس ته وفرمائیل: اے انسانه! ستا دې پۀ هُغه ذات باندې قَسم وي! چاچې تا ته زما پۀ لاس باندې معجزه وښودله، تۀ رښتیا رښتیا ووایه چې هُغه ډوډۍ چا اخستې وه؟ هُغه ګس ووئیل: ما ته پته نشته چې ډوډۍ چا اخستې وه؟ حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هُغه ګس د ځان سره کړو او بیا پۀ سفر باندې روان شو، پۀ لار کښې یو دریاب راغلو، حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هُغه ګس د لاس نه ونیولو او د اوبو د پاسه روان شو او پۀ دریاب یې واړولو، بیا حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هُغه ګس ته وفرمائیل: ستا دې پۀ هُغه پاک پروردګار باندې قَسم وي! چاچې زما پۀ لاس تا ته معجزه وښودله، رښتیا رښتیا ووایه چې هُغه ډوډۍ چا اخستې وه؟ هغه بیا هم هُغه جواب ورکړو چې ما ته پته نشته۔ حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هُغه ګس د ځان سره کړو او مخکښې روان شو، پۀ لاره کښې یوه شاړه راغله۔ حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هغۀ ته وفرمائیل: کښینه، بیا حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام لږه شګه راجمع کړه او وه یې فرمائیل: اے شګې! د الله پاک پۀ حکم باندې سرۀ زر جوړه شه نو هُغه شګه فوراً پۀ سرو زرو کښې بدله شوه۔ حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د هغې درې حصې کړې او وه یې فرمائیل: یوه حصه زما، دویمه ستا او دریمه حصه د هُغه چا د پاره چا چې هُغه ډوډۍ اخستې وه، پۀ دې اوریدو هُغه ګس ووئیل: هُغه ډوډۍ هم ما پټه کړې وه۔

حضرت سیدنا عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هُغه ګس ته وفرمائیل: دا درې واړه حصې هم تۀ واخله۔ د

دومره وئیلو نه پس حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هُغه ګَس هم هلته پرېښودو او وړاندې روان شو- هغه پهٔ دومره ډېرو سرو زرو باندې ډېر خوشحاله شو، او هغه هُغه ټول سرهٔ زر واخستل، پهٔ دې کښې هلته دوه نور ګسان راغلل کله چې هغوئي وکتل چې پهٔ دې شاړه کښې یو ګَس یواځې دے او د هغهٔ سره سرهٔ زر هم دي نو هغوئي اراده اوکړه چې مونږ به دا ګَس ووژنو او د هغهٔ نه به سرهٔ زر واخلو، کله چې هغوئي د هُغه ګَس د وژلو د پاره ور وړاندې شول نو هُغه ګَس ووئیل: تاسو ما مهٔ وژنئ بلکې مونږ دا سرهٔ زر پهٔ خپل مینځ کښې تقسیموو، پهٔ دې باندې هُغه دواړه کسان د وژلو نه منع شول او پهٔ دې خبره باندې راضي شول چې مونږ به دا سرهٔ زر یو شان تقسیم کړو، بیا هُغه ګَس ووئیل: داسې کوو چې پهٔ مونږ کښې به یو ګَس نزدې بازار ته لاړ شي او خوراک به راوړي، د ډوډۍ خوړلو نه پس به مونږ دا سرهٔ زر پهٔ خپل مینځ کښې یو شان تقسیم کړو- نو پهٔ هغوئي کښې یو ګَس بازار ته لاړو، کله چې هغهٔ سرهٔ زر واخستل نو د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې شیطاني خیال راغلو چې زهٔ پهٔ دې خوراک کښې زهر میلاوهم څنګه چې هُغه دواړه دا وخوري نو مړهٔ به شي او ټول سرهٔ زر به زهٔ واخلم، نو هغه پهٔ خوراک کښې زهر واچول او د خپلو ملګرو طرف ته روان شو، هلته د هُغه دواړو پهٔ نیتونو کښې هم د سرو زرو پهٔ لیدو فرق راغلو او هُغه دواړو مشوره اوکړه چې څنګه زمونږه دریم ملګرے خوراک راوړي نو مونږ به هغه ووژنو او سرهٔ زر به مونږ دواړه پهٔ خپل مینځ کښې تقسیم کړو، نو څنګه چې هغه ډوډۍ راوړه او د هغوئي خوا ته راورسیدو، هغوئي دواړو هغه ووژلو او ډېر پهٔ خوند د هُغه د زهرو والا خوراک خوړلو ته کیناستل، لږ وخت پس زهرو خپل اثر شروع کړو او هغوئي دواړه هم هلته مړهٔ شو او سرهٔ زر هم هُغه شان پاتې شول-

څهٔ موده پس حضرت سیدنا عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام بیا پهٔ هُغه ځائے تیرېدلو نو وه یې کتل چې سرهٔ زر هم هلته موجود دي او هلته درې مړي پراتهٔ دي- حضرت عیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د هغې

پۀ ليدلو وفرمائيل: دا دُنيا يوه دوکه ده ځکه د دې نه بچ اوسئ (يعني څوک چې د دې پۀ لالچ کښې راګير شو نو هغه هلاک شو)- (1)

دا دے د غلطۍ نۀ منلو وبال--!! که چرې دې ګس خپله غلطي پۀ وخت منلے وے نو د هلاکت نه به بچ شوے وو او د الله پاک د نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام صحبت به يې هم نصيب شوے وو خو دا لالچي وو، هغه غلطي وه نۀ منله، اخر چې کله پۀ لالچ کښې راغلو او غلطي يې ومنله نو بيا ډير ناواخته شوے وو- ځکه د دې نه مخکښې چې ډير ناواخته شي، خپله غلطي منل زده کړئ!

## پۀ دور بين کښې نۀ، پۀ آئينه کښې ګورئ!

دلته دا هم يوه لويه مسئله ده، خلق خپلو عيبونو ته نۀ ګوري، د نورو عيبونه لټوي- **يو متل هم دے:** د خپلو سترګو بَش هم پۀ نظر نۀ راځي، د نورو د سترګو خَسنے هم ليدلے کيږي [يعني خپله لويه غلطي خلق نۀ ويني او د نورو وړې غلطۍ ته ګوري]- دا هم يو لوئي افت دے، ژوند د نورو خلقو پۀ عيبونو لټولو کښې تير شي، د خپلې اِصلاح هډو موقع نۀ ميلاؤيږي- ډير ښکلے **حديثِ پاک** دے، پۀ دې کښې زمونږ د پاره سبق دے، زما نبي، ښه نبي، اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: يعني الله پاک چې د چا سره د ښيګړې اراده وفرمائي نو پۀ هغه کښې خوبيانې پيدا کړي پۀ هغې کښې يو دا ده چې هغه ته د هغه عيبونه ښکاره کړي- (2)

سُبْحٰنَ الله! دا انداز هم اِختيارول پکار دي، چا ډيره ښه خبره کړې ده چې که د عيبو لټولو شوق وي نو ضرور يې ولټوئ خو د دور بين نۀ بلکې د آئينې پۀ ذريعه---!!

يعنې د دور بين پۀ ذريعه د نورو عيبونو ته مۀ ګورئ! بلکې آئينې ته مخامخ ودريږئ او

---

1 ... موسوعه ابن ابي الدنيا، كتاب ذم الدنيا، جلد:5، صفحه:55، حديث:87-

2 ... شعب الايمان، باب الزهد و قصر الامل، جلد:7، صفحه:347، حديث:10535 ملتقطاً-

خپل عيبونه ولټوئ! الله پاک دې مونږ ته د خپلو عيبونو د لټولو او د هغې د اِصلاح کولو فِکر راعطا کړي- اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (2): خپله پړه پهٔ بَل مهٔ اچوئ!

دويم بنه عادت کوم چې مونږ ته اِختيارول دي، هغه دے: **د خپلې غلطۍ پړه پهٔ خپل سر اخستل-** دا د وړو ماشومانو عادت وي چې د هغوئي نه که چرې غلطي وشي نو د رټلو نه د بچ کيدو د پاره پهٔ نورو باندې تورونه لګوي، د عقل مند اِنسان دا کار نهٔ وي، د بده مرغه دلته بهانې لټولے کيږي، مثلاً ❀ ما ته چا وئيلي نهٔ وو ❀ دا خو د مور او پلار قصور دے چې هغوئي پهٔ مونږ د دِين تعليم نهٔ دے کړے ❀ څهٔ اوکړو جي معاشره خرابه ده، بنه اِنسان ژوند ته څوک پريږدي (يعنې د خپلو ګناهونو تورونه پهٔ معاشره اچولے کيږي) ❀ ړيره مو پخپله وخريله او وايو چې د نائي قصور دے، هغه کټ کړې وه ❀ زهٔ خو فلانکي دوست بے لارې کړے ووم وغيره، داسې پهٔ نورو خلقو د الزام لګولو سره ځان له تسلي ورکولے شي، دا غلط انداز دے، د قيامت پهٔ ورځ باندې چې به کله دوزخيان دوزخ ته غورځولے شي نو هغوئي به دا کار کوي، پهٔ قرآنِ پاک کښې دي:

كُلَّمَا دَخَلَتْ اُمَّةٌ لَّعَنَتْ اُخْتَهَا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ادَّارَكُوْا فِيْهَا جَمِيْعًا ۙ قَالَتْ اُخْرٰىهُمْ لِاُوْلٰىهُمْ رَبَّنَا هٰۤؤُلَآءِ اَضَلُّوْنَا فَاٰتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ ؕ۬ قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَّ لٰكِنْ لَّا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۸﴾

(پاره:8، سورۀ الاعراف:38)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې کله يوه ډله (پهٔ دوزخ کښې) داخله شي نو پهٔ بله (ډله) به لعنت کوي تر دې چې کله ټول پهٔ هغې کښې جمع شي نو پهٔ هغوئي کښې به وروستي د وړومبو د پاره وائي: اے زمونږه رَبه! دې خلقو مونږ ګمراه کړي وو نو تهٔ

دوئي له د وور دوه چنده عذاب
ورکړه- الله به فرمائي: د ټولو د پاره
دوه چنده دے خو تاسو ته نهٔ ده
معلومه-

دا د غير مسلمو حال دے--!! دلته پهٔ دُنيا کښې د يو بل ملګرتيا کوي، پهٔ شريکه خوشحالئ کوي، جرمونه پهٔ يو ځائے کوي، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګستاخئ پهٔ شريکه کوي، کله چې دوزخ ته ځي نو پهٔ يو بل باندې به تورونه لګوي چې مولیٰ! دا دي کومو چې مونږ بے لارې کړو، دوئي له دوه چنده عذاب ورکړې--!! خو حکم به وشي: ستاسو د ټولو د پاره دوه چنده عذاب دے-

پهٔ دې خبره باندې ځان پوهه کول دي چې غلطي وشوه نو وشوه، اوس دا ومنئ هم او د دې پړه هم پهٔ خپل سر واخلئ، د غلطئ تور پهٔ بل باندې د لګولو سره به هيڅ حل نهٔ راوځي، که د خپلې غلطئ پړه هم پهٔ خپل سر واخستے شي نو پښيمانتيا به هم وي او بيا د پاره به د داسې غلطئ نه د بچ کيدو ذِهن هم جوړيږي- ځکه چې څوک خپله اِصلاح غواړي نو هغه له پکار دي چې د خپلې غلطئ پړه هم پهٔ خپل سر د اخستو عادت جوړ کړي-

## (3): پښيمانه کيږئ!

دريم کوم ښه عادت چې مونږ اِختيار کړے دے، هغه دا چې کله غلطي وشي نو پهٔ هغې باندې د پښيمانه کيدو عادت جوړ کړئ- چې کله غلطي وشي نو بيا پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې پښيمانه کيدل پکار دي، پکار دي چې مونږ خپل ضمير ملامته کړو چې آه! دا زما نه څهٔ وشو--!! هئ! هئ! ما څومره بد کار اوکړو، افسوس چې زما نه ګناه وشوه--!! هم داسې پهٔ زړهٔ زړهٔ کښې چې پښيمانه شئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د غلطئ اِحساس به هم کيږي، بيا د

پاره به د داسې غلطۍ نه پۀ بچ کيدو کښې مرسته هم کيږي او که الله پاک وغوښتل نو د دې پښيمانتيا اِنعام به هم ميلاؤيږي-

❁ حضرت کعبُ الاَحبار رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه فرمائي: د بني اسرائيلو دوه کسان د جومات طرف ته روان شو، يو خو جومات ته داخل شو خو پۀ دويم باندې د الله پاک ويره غالبه شوه او هغه هم بهر کيناستو او وه يې وئيل: زۀ ګنهګار د دې جوګه چرته يم چې خپل ګندا وجود يوسم او د الله پاک پۀ کور کښې داخِل شم- د الله پاک د هغه دا عاجزي خوښه شوه او د هغه نوم يې پۀ صِدّيقينو کښې درج کړو- [1] ياد ساتئ چې "د صِدّيق درجه" د ولي او د شهيد نه هم اوچته وي-

❁ دغه شان يو **حکايت د کِتَابُ التَّوَّابِين پۀ صفحه 83** باندې هم ليکلے شوے دے: د يو کَس نه ګناه وشوه، هغه ډير پښيمانه شو او پۀ نا قلارۍ کښې يې يو خوا بل خوا منډې شروع کړې چې پۀ څۀ طريقه د هغه ګناه معاف شي او پروردګار ترينه راضي شي، د الله پاک د رحمت پۀ دربار کښې د هغه نا قلارې او پښيمانتيا قبوله کړے شوه او الله پاک هغه ته د ولايت ډيره اعلیٰ مرتبه صِدّيقيَّت عطا کړه- [2]

| | |
|---|---|
| عمر بدیوں میں ساری گزاری | ہائے! پھر بھی نہیں شرمساری |
| بخش محبوب کا واسطہ ہے | یا خدا! تجھ سے میری دُعا ہے [3] |

**صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## (4): د توبې طرف ته لاړ شئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** خلورم ښه عادت کوم چې د حضرت آدم عَلَيۡهِ السَّلَام د کردار نه

[1] ...کتاب التوابین، توبة رجلین من بنی اسرائیل، صفحہ:81۔

[2] ...کتاب التوابین، توبة رجلین من بنی اسرائیل، صفحہ:81۔

[3] ...وسائلِ بخشش صفحہ:137۔

د زدکړې د پاره میلاؤ شو، هغه دے: پهٔ توبه کښې تادي کول- ډیره زیاته اهمه خبره ده، مونږ چې څومره زر د توبې طرف ته ځو، هُغه همره به زمونږ د پاره ښه وي، که پهٔ توبه کښې د لم لیټ نه کار اخلو، نن سباء نن سبا کوو، پهٔ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې به توبه کړم، پهٔ بوډا والي کښې به توبه کړم، بله ورځ به توبه کړم، داسې کوو نو پهٔ سخت نقصان کښې راګیریدے شو، پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي، رسولِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: **هَلَكَ الْمُسَوِّفُوْنَ** یعنې هلاک شول هُغه خلق کوم چې پهٔ توبه کښې د لم لیټ نه کار اخلي- [1]

## بیا مرګ راشي

الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| بَلْ یُرِیْدُ الْاِنْسَانُ لِیَفْجُرَ اَمَامَهٗ ۚ۝۵ (پاره:29، سورۃ القیامۃ:5) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بلکې اِنسان غواړي چې هغه خپلې مخې ته [کیدونکې خبره] دروغ وګڼي- |

حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُما د دې آیت پهٔ تفسیر کښې فرمائي: یعنې اِنسان ګناهونه وړاندې لیږي او پهٔ توبه کښې ناوخته کوي، نن توبه کووم، سبا توبه کووم، دا وائي خو ګناه نهٔ پریږدي (د دې پورې چې پهٔ ګناه کولو کولو د مرګ ښکار شي) [2]

څکه **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پهٔ توبه کښې د تادی عادت جوړ کړئ! الله پاک ډیر مهربانه دے، هغه توبه کوونکي خوښوي-

## ګناه نهٔ لیکلے کیږي

پهٔ **حدیثِ پاک** کښې دي: اِنسان یوه نیکي کوي نو د ښی اوګې والا فرښته 10 نیکی لیکي

---

[1] …تنبیه الغافلین، باب آخر من التوبة، صفحه:59۔

[2] …تفسیر بحر العلوم، پاره:29، سورۂ قیامة، زیر آیت:5، جلد:3، صفحه:425 خلاصةً۔ دار الکتب العلمیه

او کله چې اِنسان ګناه کوي نو د ګڅې اوګې والا فرښته هغه لیکي، پۀ دې باندې د ښې اوګې والا فرښته وائي: ودرېږه! بس فرښته د 7 ساعتونو پورې ایساره وي، که چرې اِنسان اِستغفار اوکړي (یعنې د الله پاک نه معافي وغواړي) نو د هغه ګناه نۀ لیکلے کیږي-[1]

سُبۡحٰنَ الله! د الله پاک رحمت څومره لوئي دے- ګناه وشوه، بیا مۀ ناوخته کوئ! زر تر زره توبه کړئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! پۀ اعمال نامه کښې به ګناه نۀ لیکلے کیږي-

## (5): د رحمت نه مۀ مایوسه کیږئ!

پینځم ښه عادت دے چې د الله پاک د رحمت نه مۀ مایوسه کیږئ، الله پاک ډیر مهربانه دے، رحم کوونکے دے، توبه قبلوونکے دے، که ګناه وشي، غلطي وشي، د هغه د رحمت پۀ طمع اوسئ! او زر تر زره توبه کړئ! اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! توبه به قبوله شي-

## د شیطان چغې او سورې

**پۀ یو روایت کښې دي:** اِنسان ګناه کوي، فرښتے د هغې د لیکلو نه ایسارې وي، بیا دویمه ګناه کوي، دریمه، څلورمه، پینځمه ګناه کوي، بیا د دې 5 ګناهونو نه پس یوه نیکي کوي (بیا د هرې نیکۍ ثواب 10 چنده دے نو ځکه) د هغه پۀ اعمال نامه کښې 5 نیکۍ لیکلے کیږي 5 نیکۍ د ګناهونو کفاره شي، پۀ دې باندې شیطان چغې وهي چې هئ! زۀ به اِبنِ آدم څنګه قابو کووم---؟ ما کوشش اوکړو (پۀ دۀ مې 5 ګناهونه اوکړل)، هغه هم پۀ یوه نیکۍ کولو زما ټول محنت ضائع کړو-[2]

سُبۡحٰنَ الله! زما د رَبّ رحمت څومره لوئي دے---!! څوک چې د هغه دربار ته رجوع کوي، الله پاک هغه بخښي-

---

[1]... شعب الایمان، باب فی معالجة کل ذنب بالتوبة، جلد:5، صفحه:390، حدیث:7049-

[2]... تنبیه الغافلین، باب التوبة، صفحه:54-

## د عابِد يوه اِيمان تازه کوونکې خبره

**منقول دي:** پۀ بني اسرائيلو کښې يو ډېر عبادت ګزار اِنسان وو، د هغه وخت بادشاه چې د هغوئي پۀ باره کښې خبر شو نو بادشاه هغوئي دربار ته راوغوښتو او وه يې وئيل: زۀ غواړم چې تۀ هم زما سره اوسيږې- پۀ دې باندې عبادت ګزار نيک اِنسان ووئيل: بادشاه سلامته! زۀ ستاسو نه يوه پوښتنه کووم، فرض کړئ چې ما ستاسو سره اوسيدل شروع کړل، بيا يوه ورځ تاسو د بهر نه راغلئ او وه مو ليدل چې زۀ ستاسو د وينځې سره لوبې کووم نو پۀ تاسو باندې به څنګه لګي؟ بادشاه پۀ غصه کښې ووئيل: بے ادبه! زما پۀ مخکښې داسې خبره کوې؟ عبادت ګزار اِنسان ووئيل: بادشاه سلامته! ما ګناه نۀ ده کړې بس يوه فرضي پوښتنه مې اوکړه نو تاسو پرې دومره غصه شوئ او زما رَبّ هغه دے کوم چې زما پۀ سوونو ګناهونه ويني، بيا هم غضب نۀ فرمائي، بيا زۀ د خپل رَبّ در پرېږدم او ستاسو دربار ته ولې راشم---؟ (1)

اِک گناہ میرا اماں پیؤ ویکھے، عمری منہ نہ لاوے
لکھ گناہ میرا مالک ویکھے، فیر وی پردے پاوے

**وضاحت:** مور او پلار کوم چې د خپل اولاد سره ډېر محبت کوي که هغوئي هم چرته څۀ ګناه ووينې نو داسې رسوا کوي چې ټول عمر ورته پۀ ښه نظر نۀ ګوري، خو زما کريم مالِک زمونږه پۀ لکونو ګناهونه ويني بيا هم زمونږه عيبونه نۀ ظاهروي زمونږ پۀ ګناهونو باندې يې پردې راچولې دي-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا د الله پاک رحمت دے--!! هغه سَتَّار دے، هغه غَفَّار دے، هغه زمونږ عيبونه پټوي او کله چې اِنسان پۀ رښتوني زړۀ سره توبه کړي نو که ګناهونه يې هر څومره ولې نۀ وي، الله پاک يې معاف کوي-

---

1 ...تنبيه الغافلين، باب التوبة، صفحه:56-

# ګنهګارانو ته د صُلح پيغام

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: الله پاک د شپې خپل دستِ قُدرت خپروي د پاره د دې چې د ورځې ګناه کوونکے د شپې توبه کړي او رَبِّ کريم دستِ قُدرت د ورځې خپروي د پاره د دې چې د شپې ګناه کوونکے د ورځې توبه کړي۔ (1)

**لاسونه خپرول** يوه اِشاره وي، کله چې مونږ د چا سره صلح کول غواړو نو لاسونه خوارۀ کړو او هغه له غاړه ورکړو، د هغه طرف ته د صلح لاسونه وړاندې کوو، الله پاک زمونږ پۀ شان د جسماني لاسونو نه پاک دے، پۀ دې د يو مثال پۀ ذريعه باندې پوهه کړے شو چې د الله پاک د طرف نه بنده ته هر وخت د صلح پيغام دے، د اِنسان نه د ورځې ګناه وشوه نو ټوله شپه د توبې دروازه پرانستے ده، اِنسان دې توبه کړي، د شپې ګناه وشوه نو ټوله ورځ د توبې دروازه پرانستے ده، اِنسان دې د ورځې توبه کړي۔ بهر حال د الله پاک د رحمت نه مۀ مايوسه کيږئ، زر تر زره د توبې طرف ته لاړ شئ۔ الله پاک دې زمونږ توفيق نصيب کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

مرے سر پہ عِصیاں کا بار آہ مولیٰ! بڑھا جاتا ہے دم بدم یاالٰہی!
مجھے سچّی توبہ کی توفیق دیدے پئے تاجدارِ حرم یاالٰہی!
خدایا بُرے خاتِمے سے بچانا پڑھوں کلمہ جب نکلے دم یاالٰہی!(2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان خُلاصه

د بيان خُلاصه دا ده چې ټول 5 بنه عادتونه دي، د دې اِختيارول د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام

---

[1]... مسلم، کتاب التوبة، باب قبول التوبة من الذنوب...الخ، صفحه:1058، حديث:2759۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:110 ملتقطًا۔

طريقه يعنې د اِنسان پيژندنه ده او د دې عادتونو نۀ اِختيارول، د دې اُلټا کول شيطاني کار دے (1): خپله غلطي منل، څوک چې خپله غلطي مني، هغه حقيقي اِنسان دے، څوک يې چې نۀ مني هغه پۀ ظاهره اِنسان دے خو عادت يې شيطاني دے (2): دويم عادت: خپله غلطي هم پۀ خپل سر باندې اخستل (3): پۀ غلطۍ باندې پښيمانه کيدل (4): زر تر زره توبه کول او (5): د الله پاک د رحمت نه نۀ مايوسه کيدل-

دا 5 ښه عادتونه دي، د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د ښکلي کردار نه مونږ ته دا عادتونه د زدکړې د پاره ميلاؤ شول، الله پاک دې مونږ ته د دې 5 واړو ښو عادتونو د اِختيارولو او د دې د اُلټا کولو نه د بچ کيدو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اِسلامک اِي بُک لائبريري موبائل ايپلي کيشن

کتابونه د اِنسان بهترين دوستان دي او دا د اِنسان د شخصيت پۀ جوړولو او پۀ اخلاقي وده او پرمختګ کښې ډير اهم کردار ترسره کوي- که کتابونه اِسلامي او روحاني وي نو هغه نور هم زيات قيمتي کيږي- د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو ايپلي کيشن جاري کړے دے- د کوم نوم چې دے: **اِسلامِک اِي بکس لائبريري (Islamic eBooks Library)**

❀ د کومې نه چې د اُردو، انګريزۍ او د نورو ژبو پۀ زرګونو اِسلامي کتابونه مفت ډاؤن لوډ کيدے شي ❀ پۀ دې ايپلي کيشن کښې د ډيرو ليکوالو کتابونه دي ❀ پۀ ايپلي کيشن کښې کتابونه د ليکوالو د نومونو پۀ لحاظ سره او د کتاب د موضوع پۀ ذريعه هم لټولے کيدے شي ❀ پۀ دې ايپلي کيشن کښې کتابونه ډاؤن لوډ کيدے او هغه د آف لائن لوستلو د پاره د پي ډي ايف (***PDF***) پۀ ذاتي لائبريرۍ کښې محفوظ کيدے هم شي او ❀ د خپلې خوښې د کتابونو د (***Favorite***) کتابونو بيل لسټ هم شامليدے شي

✿ د دې ایپلي کیشن ډیر لوئي خاصیت دا هم دے چې کوم کسان کتابونه نشي لوستلے یا د لوستلو وخت ورسره نۀ وي نو هغوئي د دې ایپلي کیشن پۀ ذریعه کتابونه پۀ آډیو کښې اوریدے هم شي ✿ دا ایپلي کیشن تاسو د فیس بُک، ټویټر او واټس ایپ پۀ شان پۀ مختلف پلیټ فارمز د دوستانو سره شیئر کولے هم شئ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د بیان پۀ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: د ناپاکه کپړې د حصې پۀ نۀ معلومیدو د کپړې د صفا کولو طریقه۔

وضاحت: د پاکې کپړې څۀ حصه مثلاً د قمیص، پرتوګ، لستونړو وغیره څۀ حصه که ناپاکه شي او دا معلومه نۀ وي چې کومه حصه ناپاکه ده نو د دې درې حالتونه دي: (1): د کپړې د ناپاکې حصې پۀ باره کښې که چرې پته نۀ وي نو د ټولې کپړې وینځل او پاکول بهتر دي۔ (2): د کپړې د ناپاکه حصې پۀ باره کښې دې تحرّي یعنې غور او فِکر اوکړے شي چې کومه حصه ناپاکه ده، بیا چې د کومې حصې پۀ باره کښې ګمان وي چې دا ناپاکه ده نو صرف هغه حصه دې وینځلے شي نو کپړه به پاکه شي۔ پۀ غور او فِکر سره د کپړې د پاکولو نه پس که چرې معلومه شي چې د کپړې څۀ بله حصه ناپاکه وه نو که چرې پۀ هغه کپړه کښې نـمونځ ادا کړے شوے وي نو هغه نـمونځ به وشي۔ د هغه نـمونځ راګرځول به هم نۀ لازمي کیږي۔ (3): د کپړې د ناپاکه حصې د نۀ معلومیدو پۀ حالت کښې د تحرّي یعنې غور او فِکر کولو نه بغیر د یوې حصې د پاکولو سره به هم کپړه پاکه شي او پۀ دې حالت کښې که چرې وروستو معلومه شوه چې د کپړې بله حصه ناپاکه وه نو پۀ هغه جامو کښې چې کوم نـمونځونه ادا کړے شوي

دي، د هغې به واپس راګرځول لازمي وي، شرط دا دے چې پلیدي بقدرِ مانع وي- پۀ اخري دوو حالتونو کښې د ناپاکه حصې پۀ باره کښې د معلومیدو نه پس د دغه کپړې د نـمونځ د پاره د اِستعمالولو نه مخکښې د ناپاکه حصې پاکول ضروري دي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

### یَا ظَاہِرُ

خوک چې د کور پۀ دیوال باندې یَا ظَاہِرُ ولیکي اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! دیوال به یـې سلامت وي- [2]

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!     صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

[1]… دارالافتاء اہل سنت، ریفرنس نمبر:Nor.11278۔

[2]… مدنی پنج سورہ، صفحہ:255۔